# افغانستان

## بشري حقونه او په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## ځانګړی راپور

## د سرِ پل ولايت د ميرزاولنګ پر کلي بريدونه: ۳ - ۵ اګست ۲۰۱۷



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

کابل ، افغانستان

اګست ۲۰۱۷

پر لومړي مخ انځور:© مجیب خان / افغان مولټي مېډیا.

د میرزاولنګ د وژنو د قربانیانو د جنازې او خواخوږۍ مراسم چې د ۲۰۱۷ کال د اګست پر ۱۶ د سرپل په ښار کې تر سره شول.

**لړ لیک**


**عمومي کتنه** ................................................................................................................................

ماموریت ......................................................................................................................................

متودولوژي ...................................................................................................................................

حقوقي چوکاټ ...............................................................................................................................

تلفات ..........................................................................................................................................

د میرزاولنګ پر کلي د بریدونو په اړه موندنې ..........................................................................

له برید څخه د خوندي کسانو وژنه ......................................................................................

د بې ځایه شویو ټولنو لپاره د بشر پالنې مرستې او د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران ورکول ..............................

د بشري حقونو نورې سرغړونې ......................................................................................

د طالبانو او هغو محلي جنګیالیو تر منځ چې ځانونه داعش معرفي کوي همکاري............................................

پایلې ..........................................................................................................................................

سپارښتنې ....................................................................................................................................

## عمومي کتنه

د ۲۰۱۷ کال د اګست پر ۳ ، دولت ضد عناصرو او هغو ځايي جنګياليو چې ځانونه داعش غړي معرفي کوي ، د سر پل په صیاد ولسوالۍ کې د میرزاولنګ پر کلي برید وکړ چېرې چې جګړې د اګست تر ۵ دوام وموند. نوموړی کلی چې "د صیاد د دروازې" په نوم مشهور دی ، د یوې اوږدې درې په تل کې پروت دی. د دغه کلی جنوبي دروازه د ګاوندي فاریاب پولو ته نږدې او د صیاد د ولسوالۍ له اداري مرکز سره په ۲۰ کیلو متري کې پرته ده. د صیاد د ولسوالۍ د اداري مرکز شاو خوا زیاتره سیمې له یوه کال څخه د زیاتې مودې راهیسې د دولت ضد عناصرو تر کنترول لاندې وې.

د میرزا ولنګ زیاتره اوسېدونکي د هزاره قوم څخه دي چې ډېری یې شیعه مسلمانان دي. په وروستیو کلونو کې د کلي یو شمیر نارینه اوسېدونکي د حکومت پلوه ملیشو او د سیمه ییزو پولیسو په ډول په جګړه کې برخه درلوده او د دولت ضد عناصرو په وړاندې له خپل کلي په دفاع بوخت وو. اوسېدونکو یوناما ته راپور ورکړی چې دوي د دولت ضد عناصرو له طرفه ګواښنې تر لاسه کولې څو د دوي په وړاندې خپل مقاومت ودروي. دوي یاد تهدیدونه له ځايي دولتي چارواکو سره شریک کړي وو ، خو چارواکو هغوي دې ته تشویق کړی و چې دغه راز تهدیدونو ته "غاړه کې نه ږدي". ځايي چارواکي ادعا کوي چې دوي د کابل حکومت ته د تقویتي ځواکونو د نه لېږدلو په صورت کې ، پر صیاد ولسوالۍ د حملې د احتمال او پر ملکي وګړو د منفي اغیزو په تړاو خبر ورکړی و. طالبانو په څرګند ډول ویلی و چې پر میرزاولنګ برید د دغه کلي د اوسېدونکو د دوامداره مقاومت او د افغان حکومت سره د هغوې د خواخوږي په انګیزه تر سره شوی و.

د یوناما لومړنۍ موندنې په ډاګه کوي چې د ۲۰۱۷ کال د اګست د ۳ او ۵ نېټې تر منځ ، د ځايي سرچینو په حواله ، هغو دولت ضد عناصر چې  د سر پل ولایت او ګاونډ ولایتونو څخه وو د میرزاولنګ د برید پر مهال د ملکي کسانو او له جګړې لویدلي کسانو په شمول کم تر کمه ۳۶ کسان وژلي دي. په دغو کې د یوې اتلس کسیزې ډلې چې ملکي او دولت پلوه کسان په کې شامل وو ، عمدي وژنه شامله ده چا چې د کلي د شمال څخه د تېښتې هڅه کوله او د دولت ضد عناصرو له خوا ودرول شول او یوه نږدې موقعیت ته انتقال او وروسته ووژل شول. د یوې ښځې په ګډون ، نور کسان د راپور سره سم هغه وخت ووژل شول چې کله دوي د کلي له نورو برخو څخه د تېښتې هڅه کوله.

دغه راز وژنې چې د ګڼو اعتباري سرچینو له خوا تایید شوي دي لکه څرنګه چې ښکاري چې په عمدي توګه یې ملکیان او هغه کسان په نښه کړي دي چې له جګړې څخه لویدلي وو او د مقابل لوري په ولکې کې وو ، د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه سرغړونه ده  او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. په لومړۍ قضیه کې (د تېښتې په حال ملکي کسان) برید ممکن د بشرپالنې د نړیوال قانون د توپیر د اصل څخه سرغړونه وګڼل شي ، کوم چې په جدي توګه د ملکیانو او ملکي شیانو په وړاندې مستقیم بریدونه منع کوي. په دوهمه قضیه کې برید (د هغو کسانو وژنه څوک چې د یو مخالف لورې په ولکه کې دي) ، شاید  قتل وګڼل شي پرته له دې چې دوي ملکیان دي او یا په مستقیم ډول په جګړې کې برخه اخلې (ملیشه) او یا په شخړه کې له ښکېلو خواوو څخه وي.

د طالبانو له بیان سره په توپیر کوم چې ادعا کوي چې هغه ۲۸ کسان چې دوي وژلي دولت پلوه جنګيالي وو چې د جګړې پر مهال وژل شوي وو ، هغه معلومات او راپورونه چې د یوناما له خوا بیا کتل شوي دي ، ښيي چې په میرزاولنګ کې اکثریت وژل شوي کسان ملکي او هغه کسان وو چې له جګړې لویدلي وو او هغه مهال ووژل شول چې کله  جګړه دریدلې وه. یوناما داسې معلومات نه دی تر لاسه کړی چې ثابت کړي چې په کلي باندې برید فرقه ییز یا نژادي انګیزه درلودله ، د ملکي کسانو او د جګړې څخه د لویدلو کسانو د وژنې د فرقه ییز ابعادو ادعاوې د صلاحیت لرونکو چارواکو له خوا لا زیاتو څېړونو ته اړتیا لري. دغه ډول وحشیانه عمل د هغو بریدونو او بیانونو د نمونو سره اړخ لګوي چې ځانونه داعش معرفي کوي او چا چې د دغې پېښې په شمول ، په

افغانستان او نورو ځایونو کې د شیعه ټولنې د غړو د عمدي وژنې مسئولیت منلی دی.[1] یوناما ټینګار کوي چې د ملکیانو او د جګړې ښخه د د لویدلې کسانو وژنه په پوځي لحاظ په هیڅ ډول د توجیه وړ نه ده.

دولت ضد عناصرو د وژل شویو کسانو جسدونه د یوې ورځې ښخه د زیاتې مودې لپاره په یو شمیر موقعیتونو کې پرېښودل او د نږدې لسو کسانو یوې ډلې ته یې لارښوونه وکړه چې جسدونه خاورو ته وسپاري. د یوناما سره د مرکې پر مهال ، د دغو کسانو له جملې ښخه یوه کس راپور ورکړ چې د دغو جسدونو له جملې ښخه ځینې یې په داسې حالت کې وو ، چې د ښورولو وړ نه وو ، او جسدونه په خاورو ککړ وو او د میرزاولنګ په دره کې د نږدې لسو ورځو لپاره په دوو ډله ییزو قبرونو کې پرېښودل شوي وو. افغان امنیتي ځواکونو د اګست په ۱۴ نېټه د کلي کنترول بیا تر لاسه کړ او د یوې ورځې وروسته جسدونه له خاورو راوایستل شول او د سر پل ښار ته یووړل شول.

### ماموریت

د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د (2017) 2344 پرېکړه لیک سره سم صلاحیت لري : " چې د ملکیانو وضعیت وڅاري ، د هغوي د ساتنې لپاره هڅې همغږې کړي ، [...] حساب ورکونې ته وده ورکړي ، او د افغانستان د اساسي قانون او د هغو نړیوالو میثاقونو چې افغانستان یې غړیتوب لري ، د ټولو بنسټیزو ازادي ګانو او بشري حقونو د حکمونو په بشپړ پلې کولو کې مرسته وکړي ، " یوناما د میرزاولنګ پر کلي د بریدونو په اړه خپلې حقیقت موندنې تر سره کړې. دغه راپور د یوناما موندنې رانغاړي او د دغه ماموریت د پر مخ بیولو په موخه یو لړ سپارښتنې هم وړاندې کوي.

### میتودولوژي

د اګست له ۵ ، تر ۱۶ ، یوناما د میرزاولنګ د برید په اړه حقیقت موندنې تر سره کړې. د دغه راپور د معلوماتو لومړنۍ سرچینې هغه لومړی لاس راپورونه دي چې د یوناما د بشري حقونو ټیم ته په سرپل ښار او صیاد ولسوالۍ کې پنجشنبه د اګست پر ۱۰ ، د حقیقت موندنې د ماموریت پر مهال برابر شوي. یوناما د یو شمېر عیني شاهدانو په ګډون ، د میرزاولنګ د کلي له ۴۰ بې ځایه شوو اشخاصو سره مرکې کړې ، او د ولسوالۍ او ولایت په کچو یې له دولتي او امنیتي چارواکو سره کتلې. یوناما دغه راز لږ تر لږه ۲۵ مرکې د میرزا ولنګ د بې ځایه شوو اشخاصو ، امنیتي چارواکو او دولتي مسئولینو سره عمدتا د ټیلیفون له لارې تر سره کړې. زیاتره ټیلیفوني مرکې له ځایي مشرانو او هغو اشخاصو سره وې چې له دغه کلي سره یې کورنۍ یا رسمي اړیکې درلودې. د مرکه شویو اشخاص عمرونه له اتو تر ۹۰ کلونو پورې وو ، او په دې کې د نارینه او ښځینه تناسب هم په پام کې نیول شوی و.

یوناما د حقیقت موندنې په ټولو پړاوونو کې په ملي او ځایي کچه د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمېسیون سره سلامشورې تر سره کړې. رسنۍ او نور راپورونه د پوښتنو د جوړولو لپاره د یوه بنسټ په څېر کارول شوي خو پر هغوي د معلوماتو د سرچېنې په څېر تکیه نه ده شوې. سپوږمکیز انځورونه د جغرافیاي شننې لپاره کارول شوي. یوناما له ۳۶ وژل شویو قربانیانو د هر یوه هویت او وضعیت د تثبیت لپاره له ګڼ شمیر سرچینو سره اړیکه نیولې ، او هر شخص یې په وسله واله جګړه کې د ګډون یا نه ګډون له مخې تحلیل کړی. یوناما دغه راز خپلې موندنې د روغتون د هغو جسدونو له سوانحو سره پرتله کړې چې د اګست پر ۱۵ د سر پل ښار ته وړل شوي وو. هغه کسان چې وژنه یا ټپي کېدنه یې تثبیت شوې کوم چې په زیات احتمال د دولت پلوه جنګیالیو یا افغان سیمه ییزو پولیسو غړي نه وو ، او سرچینو په پر له پسې ډول ملکیان شمیرل (ښځینه ، تنکي ماشومان او له ۶۰ کلونو

[1] په لاندې بریښنایي پته د لاسرسي وړ ده: https://twitter.com/Terror_Monitor/status/897176678438289408

پورته عمر نارینه) ، ملکیان ګڼل کېده. یوناما دغه راز هغه نارینه چې عمرونه یې د ۱۸ - ۵۵ کلونو تر منځ وو ، هغه وخت د ملکیانو په کټګورۍ کې وشمیرل چې ګڼ شمیر خپلواکو سرچینو یې ملکي وضعیت تایید کړ.

یوناما د خپلې ټاکلې میتودولوژۍ[2] له مخې کومه چې د درې ډوله خپلواکو سرچینو غوښتنه کوي ، ونه کړای شوه د څېنو نارینه ملکي وضعیت تایید کړي. نو له دې سره سم ، دغه راپور د ملکي تلفاتو وروستنۍ او تایید شوي شمیري نه وړاندې کوي.[3] بشپړ کره توب ته د رسېدو لپاره له ټولو هڅو سره سره ، بیا هم یوناما د دې ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې ارقام بشپړ دي او په عملیاتي چاپیریال کې د موجوده محدودیتونو په پام کې نیولو سره یوناما اعتراف کوي چې شاید ملکي تلفات کم راپور شوي وي. یوناما د دې ادعا نه کوي چې د حقوقي فیصلې کولو ورتیا لري چې ایا جنګي جرمونه ، څرنګه چې تر نړیوال قانون لاندې تعریف شوي ، تر سره شوي ، او نه په دې هڅه کې ده چې د جنایي عدلي سیستم ځای ناستې شي. د یوناما له خوا تر سره شوې د ملکي وګړو د ساتنې څارنه په نړیواله کچه منل شوي د بشري حقونو د څارنې میتودولوژۍ ګانې کاروي څو د ملکي وګړو د ساتنې د اړوندو موضوع ګانو په اړه کره او باوري معلومات برابر کړي.

یوناما د دغه ځانګړی راپور موندنې وړاندې کوي چې دولت د لومړي مسئولیت لرونکي په څېر د خپلو مکلفیتونو تر سره کولو ته وهڅوي څو له زیان څخه د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره نور کوټلي ګامونه پورته کړي او د هغو کسانو چې د نړیوالو او افغان قوانینو د سرغړونو عاملین دي ، ځواب ورکونه یقیني کړي.

### حقوقي چوکاټ

د افغانستان د شخړې په تړاو د یوناما دریځ دا دی چې دا یوه داخلي شخړه ده چې د هغو وسله والو ځواکونو چې د افغانستان دولت ملاتړ کوي او د نادولتي مخالفو وسله والو ډلو تر منځ روانه ده. د۱۹۴۹ کال د ژنیوا د څلورو کنوانسیونونو ۳ مشترکې مادې چې پر غیر نړیواله وسله واله شخړه د تطبیق وړ ده ، په صراحت سره د عمدي قتل ، مُثله کولو ، بې رحمه چلند ، یرغمل نیولو ، او همدا راز د چا پر شخصي کرامت تعرض ، او د قضا د حکم پرته د اعدامونو په ګډون ، په هر وخت او هر ځای کې د هغه چا د ژوند او د شخص په وړاندې چې په دښمنیو کې فعاله برخه نه اخلي په کومو کې چې ملکي وګړي ، او د مخالف لورې تر ولکې لاندې له جګړې څخه لویدلي جنګیالي هم شاملېږي ، تاوتریخوالی منع کوي.

همدا ډول د ژنیوا د کنوانسیونو د دویم الحاقي پروتوکول د ۴ مادې ، او د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون له مخې چې پر غیر نړیواله وسله واله شخړه د تطبیق وړ دی ، قتل منع کړی دی. همدا راز پر ملکي وګړو او ملکي شیانو د هغو ملکي کسانو په ګډون چې له جګړې څخه د تېښتې په حال کې دي ، د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون له مخې چې پر غیر نړیوال وسله واله شخړه د تطبیق وړ دی ، مستقیم برید منع دی ، په ځانګړی ډول ، د توپیر د اصل سره سم ، چې وایي چې په شخړه کې ښکېلې خواوې باید تل د ملکي وګړو او جنګیالیو تر منځ توپیر وکړي. بریدونه یوازې د جنګیالیو پر ضد تر سره کېدای شي. د ملکي وګړو پر ضد باید بریدونه تر سره نه شي.

د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې له برید څخه د ملکي وګړو د ساتنې سربېره ، یوناما په دې ټینګار کوي چې له برید څخه په ژغورل شویو کسانو کې هغه کسان هم شامل دي چې له جګړې لوېدلی (*hors de combat*) وضعیت لرونکي وي ، او دغه ساتنه

[2] د لا زیاتو معلوماتو لپاره ، په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د نیم کلن او کلني راپورونو د میتودولوژۍ برخه وګورئ ، چې په دغه پته د لاسرسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[3] یوناما تمه کوي چې د دغې برید په پایله کې د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو وروستۍ شمېرې به په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۷ کال په کلني راپور کې خپرې شي ، چې تمه ده د ۲۰۱۸ په لومړیو کې خپور شي.

پر دواړو ، ملکي وګړو او د شخړې پر ښکیلو خواوو د تطبیق وړ ده ، په دې شرط چې د وژنې پر مهال دوي د مخالف لورې تر کنترول لاندې وي.

د نړیوالې جنایي محکمې د روم اساسنامه په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې ، له مشترکې دریمې مادې او نورو قوانینو او عُرفونو چې پر یوه داسې وسله واله شخړه د تطبیق وړ وي چې د نړیوال ماهیت درلودونکې نه وي ، جدي سرغړونې په جنګي جرمونو کې شاملوي ، چې وروستی هغه یې د ملکي وګړو او یا هغو انفرادي ملکیانو په وړاندې چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه نه اخلي ، په عمدي ډول د بریدونو تر سره کول رانغاړي. د قتل منع لکه د هغو ملکي وګړو او له جګړې څخه د لوېدلو اشخاصو قصدي وژنه د نړیوال عرفي قانون هغه نورم دی چې په دواړو نړیوالو او غیر نړیوالو وسله والو شخړو د تطبیق وړ دی.[4]

په شخړه کې ښکېلې خواوې د ۱۹۴۹ کال د ژنیوا د کنوانسیونونو د دویم الحاقي پروتوکول او نړیوال عرفي قانون سره سم ، مکلفې دي چې ټول شونې تدبیرونه ونیسي څو مړي له ضایع کېدلو وژغوري او په درنښت سره یې خاورو ته وسپاري.[5]

**تلفات**

یوناما د اګست د ۳ او ۵ نېټې تر منځ په میرزاولنګ کې د بریدونو پر مهال د ۳۶ کسانو وژل او د دوو نورو ټپي کېدولو هویت تثبیت کړی . د ۳۶ وژل شویو کسانو له جملې څخه ، ځایي سرچینو تایید کړي چې په وژل شویو کسانو کې اووه وژل شوي دولت پلوه ملیشې ، یو افغان سیمه ییز پولیس او د افغان ملي پوځ یو سرتیری شامل دي.

د پاته ۲۸ وژل شویو کسانو له جملې څخه یوناما کافی مدرکونه په لاس کې لري چې ښیي ټول ۲۷ کسان ملکیان وو.[6]

هغه ملکي قربانیان چې د بریدونو په مهال وژل شوي ، په هغو کې یوه ښځه ، څلور هلکان چې عمرونه یې د ۱۳-۱۷ کلونو تر منځ وو ، او ۱۳ نارینه چې عمرونه یې له ۶۰ کلونو څخه زیات وو ، شامل وو.

د نارینه وو ځینې ډلې چې په ابتدا کې ګمان کېده لادرکه شوي ، له برید څخه له یوه اونۍ زیاتې مودې وروسته سر پل ته راستانه شول ، چې د څو ورځو لپاره په لرې پرته سیمو کې د تېښتې پر مهال پټ شوي وو.

**د میرزاولنګ پر کلي د برید په اړه موندنې**

**له برید څخه د خوندي کسانو وژنه**

د دې راپور د خپرولو پر مهال د موجوده اطلاعاتو پر بنسټ ، یوناما په لاندې ډول نتیجه ګیري کوي:

4 د ژنیوا کنوانسیونونو ۳ مشترکه ماده پر "ژوند او شخص او په ځانګړې ډول د ټولو ملکي کسانو او له جګړې لوېدلي کسانو د قتل ټول ډولونه " منع کوي. پر ژوند تعرض ، د سره صلیب نړیواله کمېټه. د سره صلیب د نړیوالې کمېټې له خوا د بشر پالنې د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، قاعده ۸۹ وګورئ. د بشري حقونو د نړیوال قانون او نړیوال جنایي قانون چوکاټونه چې په افغانستان کې د ملکي وګړو په راپور ورکولو تطبیق شوي ، په اړه د حقوقي تعریفونو او تفصیلاتو لپاره ، وګورئ: د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د منظمو راپورونو د حقوقي چوکاټ ضمیمه ، لکه: د ۲۰۱۷ کال په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د افغانستان نیم کلن راپور ، ۶۲ مخ.

5 د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ او د ۱۹۷۷ د جون د ۸ ، د ژنیوا د کنوانسیونو د دویم الحاقي پروتوکول ۸ ماده ؛ د سره صلیب د نړیوالې کمېټې له خوا د بشر پالنې د نړیوال پر عرفي قانون څېړنه ، ۱۱۳ ، ۱۱۴ ، ۱۱۵ قاعدې وګورئ.

6 د میتودولوژي برخه وګورئ.

دولت ضد عناصرو د ۲۰۱۷ کال د اګست پر ۳ ، د شاوخوا غرونو څخه د متعددو جهتونو څخه د میرزاولنګ پر کلي برید وکړ. طالبانو او هغه کسانو چې ځانونه داعش جنګیالي معرفي کوي د دولت پلوه ملیشو او افغان سیمه ییزو پولیسو سره یوه ورځ وجنګېدل او د کلي په شاوخوا کې پر امنیتي پوستو یې بریدونه وکړل. د جګړې پر مهال ځینو امنیتي پوستو د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا په کافي اندازه ملاتړ تر لاسه نه کړ ، خو د رارسیدلو ځواکونو شمیر دومره نه و چې برید کوونکي په شا وتمبوي.

جګړې د ۲۴ ساعتونو څخه زیات دوام وکړ ، آن تر هغه چې د افغان سیمه ییزو پولیسو وروستۍ پوسته د اګست پر ۵ ، د شنبې د ورځې په لومړیو ساعتونو د دولت ضد عناصرو له خوا ونیوله شوه.

کله چې د وروستي امنیتي پوستې د نیولو احتمال زیات شو ، د دولت پلوه ملیشو جنګیالیو د کلي اوسېدونکو ته خبرداری ورکړ ، چا چې د اګست په ۴ د جمعې د ماخوستن په ۱۱ بجو په تېښته پیل وکړ. د وروستي امنیتي پوستې له سقوط وروسته ، د دولت پلوو ملیشو پاته جنګیالي له جګړې په شا او ځینې یې له خپلو کورنیو سره وتښتېدل .

د اګست د ۴ نیټې د جمعې د ۱۱ بجو او د اګست د ۵ نیټې د ۵ بجو تر منځ ، په کلي کې د څه باندې ۴۵۰ کورنیو څخه زیاتو هغو یې له سیمې څخه په وتو پیل وکړ ، زیاتره یې د سیمې څخه د خامه سرک یا پیاده رو په کارولو سره د درې په لور چې د صیاد د ولسوالۍ د اداري مرکز په شمال کې موقعیت لري وتښتېدل. په داسې حال کې چې یو شمیر زیات کسان له سیمې څخه په پښو ووتل خو یو شمیر کورنۍ د سر پل ښار څخه په رالیږل شویو دولتي او شخصي موټرونو کې له یوه ځایه څخه بل ځای ته ولیږدول شول.

د شاهدانو په وینا دولت ضد عناصرو په سر پل کې د یوه محلي قوماندان چې ځان د داعش قوماندان معرفي کوي د هغې وروستۍ امنیتي پوستې کنترول تر لاسه کړ چې د کلي په شمال کې یې موقعیت درلود. د اګست په ۵ ، په نږدې پنځو بجو ، د دغو جنګیالیو ځینو غړو د خلکو یوه ډله چې د کلي څخه یې د تېښتیدو هڅه کوله ، ودروله. په دې ډله کې دولت پلوه ملیشه جنګیالي ، د هغوی کورنۍ او نور ملکي کسان شامل وو. متعددو او اعتباري شاهدانو یوناما ته په دوامداره توګه ویلي چې دولت ضد عناصرو د دوې ښځې او ماشومان بیل کړل او په پای کې یې یوه محلي کور ته واستول. د هغو کسانو د چا سره چې یوناما مرکې کړې ویلي چې دولت ضد عناصرو د نارینه یوې ډلې ته په کومه کې چې زیات ملکي کسان وو حرکت ورکړ او یوه نږدې موقعیت ته یې انتقال کړل او هلته یې په ډزو ووژل. دغه کسان د وژلو پر مهال د دولت ضد عناصرو په واک کې وو ، او په دې اساس ، حتي هغه کسان چې ملکیان هم نه وو خو د جګړې لویدلي وو او همدې اساس د بریدونو څخه خوندي دي.

د ځمکنۍ نښتې پر مهال د یوې ښځې او څلورو ماشومانو په ګډون یو شمیر ملکي کسان هم وژل شوي. په دې کې د خلکو د ډلو په وړاندې بې توپیره بریدونه هم شامل دي په کومو کې چې په څرګند ډول ملکي کسان شامل وو.

د هغو ځایي اوسیدونکو د خلاصون لپاره څوک چې لا هم په کلي کې پاته وو د ځایي مشرانو او طلبانو تر منځ د را وروسته ورځو په جریان کې خبرې شوې. د اګست په ۱۰ مالومه شوه چې د میرزاولنګ ټولو اوسیدونکو کلی پرې ایښی ، زیاتره سرپل ښار ته تللي ، په جوماتونو کې یا د کورنیو سره اوسیږي.

دولت د سیمې د بیا نیولو لپاره سیمې ته پوځې ځواکونه واستول او د اګست په ۱۴ یې په ټولنیزو شبکو د دغو عملیاتو د پای ته رسیدو اعلان وکړ. د دولت په حواله ، د دولت ضد عناصرو له خوا د هغه احتمال له امله چې د کلي نه د وتو نه وړاندې یې په سیمه کې ځاي پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ځای پر ځای کړي وو ، د پاکسازي عملیاتو زیات وخت ونیو.

د شاهدانو او ګڼ شمیر معتبرو سرچینو په شمول د هغو ۱۸ کسانو د جسدونو موقعیت تصدیق کړی چې ګمان کیږي د داعش د یوه ځایې قومندان په امر د دولت ضد عناصرو له خوا په ګروپې ډول وژل شوي. یوناما دوامداره راپورونه تر لاسه کړي چې جسدونه کلي ته نږدې په یوه موقعیت کې پرېښودل شوي او نږدې لسو ځایي خلکو ته لارښونه شوې څو د هغوي جسدونه خښ کړي خو خلکو ته امر شوی چې جسدونه د کلي څخه د باندې انتقال نه کړي. ځینې جسدونه په داسې یوه حالت کې وو چې انتقال یې نورو ځایونو ته ممکن نه و ، ځکه نو ځایي اوسیدونکو په جسدونو خاورې ور اړولي. دغه راپورونه هغه مهال تصدیق شول چې کله افغان ملي امنیتي ځواکونو د ځایي خلکو په مرسته د ۱۸ کسانو جسدونه وموندل او د سیمې څخه یې د هغوي جسدونه را و ایستل او نور جسدونه یې د ۲۰۱۷ کال د اګست په ۱۵ هغه مهال وموندل چې کله افغان دولت د کلي او شاوخوا سیمو کنټرول ترلاسه کړ.

افغان ملي امنیتي ځواکونو د محلي رسنیو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د استازي او ځایي خلکو په شتون کې جسدونه له خارو را وایستل.[7] یوناما هم د یوه بل قبر چې نږدې اته کسان پکې و او همدارنګه د نږدې څلورو انفرادي قبرونو په اړه متعدد راپورونه ترلاسه کړي. هغه کس چې یاد اته کسان په یوه اضافي قبر کې خښ کړي وه یوناما ته وویل چې داسې ښکاریده چې دوي په بیلابیلو موقیعتونو کې وژل شوی وي.

د اګست په ۱۴ ، د سرپل والي وویل ښه به وي چې کورنۍ د جسدونو د را ایستلو پر مهال د رسنیو او بشري حقونو د سازمانونو د شتون شاهدان و اوسي. د اګست په ۱۵ ، نوموړي امر وکړ چې هغه جسدونه چې په کلي او یا شاوخوا سیمو کې موندل شوي له خاورو راو ایستل شي او د سر پل ښار ته انتقال شي څو په سمه توګه خاورو ته وسپارل شي ، په دې کې دوه جسدونه په داسې حالت کې وه چې انتقال یې ممکن نه و. هغه دوه جسدونو په سیمه کې د اسلامي مراسمو سره سم خاورو ته وسپارل شول او د پاته قربانیانو لپاره د دعا مراسم د اګست په ۱۶ په سرپل ښار کې ترسره شول. له خاورو څخه د جسدونو د را ایستلو او د جسدونو د انتقال لړۍ له دې امله په چټکې ترسره شوه چې ګمان کیده دولت ضد عناصر ممکن یو بل برید تر سره کړي. د راپورونو سره سم ، طالبانو د اګست په ۱۶ د ورځې په لومړیو کې سیمې ته بیا دننه شول چې کله په سر پل ښار کې د میرزاولنګ اوسیدونکي په جنازه بوخت وو. د جسدونو د ژر له خاورو را ایستلو په خاطر د امنیتي دلایلو سربیره ، د یوناما له خوا ترلاسه شوي معلومات ښیي چې د میرزاولنګ د کلي څخه جسدونه د بشپړ عدلي طب او اړوندو تحقیقاتي طرزالعملونه پرته را ایستل شوي او ممکن د ډله ییزو او انفرادي قبرونو د را ایستلو د ساحو لپاره ضروري وي چیري چې د جرمونو ادعاوې موجودې وې.

د اګست په ۱۵ ، لوی څارنوال د لوی څارنوال د دفتر او کورنیو چارو له وزارت څخه یو لوړ پوړی ټیم د برید د څیړلو په موخه وټاکه.

### د بشري حقونو نورې سرغړونې

*د سر پرې کول:* ادعاوې شوې چې د ځینو قربانیانو سرونه پرې شوي. د ټولو قربانیانو د بیانونو او د هغو معلوماتو په حواله چې یوناما د سر پل د روغتون څخه ترلاسه کړې چیرې چې اکثرا قربانیان لیږدول کیدل داسې شواهد موجود نه دي چې دا ادعاوې ثابت کړي.

*فرقه ییز تاو تریخوالی:* یوناما د ښځو او نارینه وو څخه ګڼ شمیر معتبر راپورنه ترلاسه کړي چې دولت ضد عناصرو (په خاص ډول هغه چې ځانونه داعش بولي) د شعیه وو پر ضد بیانونه ورکړي(هغوي یې نیمه مسلمانان او کافر بللي). یوناما همدارنګه داسې

[7] د محلي دولتي چارواکو ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د استاري او د جسدونو د را ایستلو پر مهال د عیني شاهد سره د یوناما مرکه.

ادعاوې ترلاسه کړې چیرې چې دولت ضد عناصرو د ځایي شعیه ګانو حسینیه جومات ویجاړ کړی یا سوځولی. د هغو کسانو سره چې یوناما مرکه کړې هغوي په دوامداره توګه ویلي چې جومات ویجاړ شوی یا سوځول شوی نه دی.

*د ښځو سره تړلې جنسي تاو تریخوالی او د ښځو اړوندې نورې سرغړونې:* یوناما د یو شمیر زیاتو تښتول شویو یا یرغمل شویو ښځو په اړه رسنیو ادعاوې نه شي تصدیقولای. په ورته ډول ، د جنسي تاو تریخوالي په اړه د هیڅ ډول راپورونو تصدیق کولای نشي . د یوناما سره د مرکو پر مهال ، د میرزاولنګ د کلي اوسیدونکو د جنسي تاوتریخوالي او د ښځو او نجونو تښتول په کلکه رد کړې.

یوناما دوامداره راپورونه ترلاسه کړې چې دولت ضد عناصرو ښځې د نارینه وو څخه جلا کړې ، او خپلو کورونو ته د ستنیدو د اجازې د ترلاسه کولو وړاندې یې د څه وخت لپاره زیاتې ښځې په یوه خونه کې د یو بل سره ساتلې. په ځینو مواردو کې ، دولت ضد عناصرو کورونه تلاشي کړي ، نارینه یې د کورونو څخه ایستلي او ښځې او ماشومان یې په کورونو کې پرې ایښې.د دولت ضد عناصرو ځینې کورونه اشغال کړي وو او ښځو ته یې د ډوډی تیارولو امر کړی وو. د هغو ښځو سره چې یوناما مرکه کړې ویلي چې د هغوي سره تر ډیره بریده ښه چلند شوی ، ځینو بیا ویلي چې دولت ضد عناصرو دوي ته ویلي چې هغو ته و نه ګوري او خپل مخونه پټ کړي (د سزا او مرګ لاندې) ځکه چې دا یوه غیر اسلامي کړنه ده چې ښځه په عام محضر کې خپل مخ لوڅ کړي.

*په معارف اغیز:* د جګړې د پیلیدو وروسته ښوونځې وتړل شول. د معارف د ریاست د یوه راپور په حواله ، د نجونو او هلکانو دوه ښوونځې (یوه عالي لیسه او یو ابتدایي ښوونځی) وتړل شول چې په نتیجه کې یې نږدې ۷۵۰ تنه زده کونکي (۳۵۰ هلکا او ۳۸۷ نجونې) د زده کړې له نعمت څخه محروم شول.[8]

*په روغتیا پالنه اغیز:* په سیمه کې یو روغتیایي مرکز شتون لري. د عامې روغتیا د ریاست څخه د ترلاسه شویو معلوماتو په حواله ، روغتیایي مرکز هغه مهال وتړل شو چې کله په سیمه کې جګړه ونښتله او روغتیایي کارکونکي د کوم زیان پرته په تیښته بریالي شول.

**د بې ځایه شویو تولنو لپاره د بشر پالنې مرستې او د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران ورکول**

هغه کورنۍ چې د میرزاولنګ د کلي د اوسیدونکو په حیث راجسټر شوې (د ۴۵۰ کورنیو څخه زیاتې)، ټول یې له خپلو کورونو بې ځایه شوي او په سر پل کې په جوماتونو او د ښار د اوسیدونکو سره ځای په ځای شوې. د محلي حکومت چارواکو د بې ځایه شویو کسانو لپاره د خوراکي توکو او سر پناه انتظام کړی . دولتي چارواکو او عادي کسانو د صیاد د ولسوالي څخه تر سر پل ښار پورې د کورنیو لپاره هغه وخت د ترانسپورت بندوبست وکړ چې کله د میرزاولنګ اوسیدونکي له خپل کلي څخه وتښتیدل ، ځینو یې د کلي څخه تر سرپل ښار پورې په پښو مزل وکړ.

د افغان دولت هیئتونو ، د ملګرو ملتونو نمایندګیو او نا دولتي سازمانونو په سیمه کې ارزونې ترسره کړي او د خلکو د بې ځایه شوي خلکو ته یې په سر پل ښار کې مرستې و رسولې. د دې په خاطر چې په سر پل ښار کې د بې ځایه شویو کسانو لپاره مرستې جارې اوسي په سر پل ښار کې د یوناما د حقیقت موندنې د ماموریت پر مهال ځایي چارواکو راپور ورکړی چې دوي د مرکزي حکومت او نړیوالي ټولنې څخه ، د خوراکي توکو ،سرپناه ، جامو او طبي درملنې په شمول د اضافي سرچینو د برابرولو غوښتنه کړې . یوناما ګڼ شمیر اسناد ترلاسه کړي کوم چې د نړیوالې ټولنې او ځایې سازمانونو د روانو عکس العملونو په اړه توضیحات وړاندې کوي. د راپور سره سم ، د کابل څخه اضافي دولتي هیئتونه پلان شوي.

[8] د دې راپور د خپرولو پر مهال ، د میرزاولنګ د کلي او سیدونکي لا هم بې ځایه وو.

محلي چارواکو یوناما ته ویلي چې ټولو نه بلکې ځینو مستحقو کورنیود حکومت څخه خسارې تر لاسه کړیدي.

**د طالبانو او هغو محلي جنګیالیو تر منځ چې ځانونه داعش معرفي کوي همکاري**

چارواکو او عیني شاهدانو ادعا کړې چې په هغو بریدونو کې چې محلي طالبان د نږدې ګاونډ ولایتونو څخه د سیمه ییزو طالبانو سره په جګړه کې ښکیل وو او همدارنګه هغه کسان چې ځانونه د داعش جنګیالي معرفي کوي ، همکاري موجوده ده.

هغه کسان چې د یوناما له خوا مرکه شوې ویلي چې د طالبانو او هغو ځایې کسانو تر منځ چې ځانونه داعش جنګیالي معرفي کوي له څه وخت راهیسې په صیاد ولسوالي کې همکاري او همغږي موجوده ده ، ګمان کیږي چې د دې همکاري او همغږې بنسټ پر کورنیو او قومي اړیکو ولاړ وی. د سر پل والي د ۲۰۱۶ کال د نومبر په ۲۶ یو خبري کنفرانس دایر کړ او په یاد کنفرانس کې یې په ولایت کې د هغو کسانو چې ځانونه د داعش جنګیالي معرفي کوي شتون او د دوو ډلو شتون چې په ګډه یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه ملیشو په وړاندې بریدونه کړي شتون تایید کړ. یوناما په دې ورستیو کې د دې رجحان معلومولو هڅه کړي او داسې ښکارې چې دا ډول همکاري د هغه قومندان چې ځان داعش معرفي کوي او د طالبانو د محلي قومندان/او تش په نامه والي تر منځ د هغې اړیکې سره اړخ لګوي څوک چې د یوه بل سره خپلوان دي .

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د برید مسولیت منلی خو د ملکي کسانو وژل او د عملیاتو پر مهال د طالبانو او داعش تر منځ همکاري یې رد کړې. د طالبانو ویاند رسنیو ته ویلي چې هغه کس چې ځان د داعش قومندان معرفي کوي په اصل کې د داعش قومندان نه بلکه په سر پل کې زموږ قومندان دی ، هغه ډیر فعال قومندان دی ، هغه زموږ تر واک او بیرغ لاندې خپله دنده پر مخ وړي او هغه موږ ته وفادار دی.[9]

د اګست په ۱۴ ، داعش د اعماق خبري اژانس له لارې یو بیان خپور کړ او ادعا یې کړې "چې زموږ د ساحوي سرچینې په حواله ، داعش جنګیالیو درې ورځې مخکې د میرزاولنګ په کلي کې ټولټال ۵۴ شعیه ګان ووژل او په ورځیرمه کلیو یې بریدونه ترسره کړل. په ورته وخت کې افغان ځواکونه د کلي د بیرته نیولو هڅه کوي."[10]

هغه کس چې ځان د داعش قومندان معرفي کوي په ځایي خلکو کې شهرت لري او خپله وفاداري یې د د داعش/ اسلامي دولت سره اعلان کړې ، یوناما د داسې اطلاعاتو په اړه هیڅ مالومات نه لري چې وښیي هغه د داعش سره او یا په ننګرهار ولایت کې د عملیاتو او یا په عراق او مشرق کې د پیښو سره تړاو لري.

په سیمه کې د هغو کسانو په اړه چې ځانونه د داعش جنګیالي معرفي کوي ، د ګاونډې جوزجان ولایت په شمول او په خراسان ولایت کې د داعش او عراق او مشرق کې د بل القوه اړیکو په اړه د خبرو اترو لپاره د نورو معلوماتو لپاره په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال شپږ میاشتنی راپور وګورئ.[11]

**پایلې**

د ۲۰۱۷ کال د اګست د ۳ او ۵ نیټې تر منځ ، دولت ضد عناصرو د میرزاولنګ په کلي کې ملکي کسان او هغه کسان چې د جګړې څخه لویدلي وو په عمدي توګه وژلي دي. د ملکي کسانو او هغو کسانو عمدي وژل چې په وسلواله نښتو کې په مستقیم ډول ښکیل نه وي او یا هغه کسان چې د جګړې څخه لویدلي وي د بشر پالنې د نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې تشکیلوي او ممکن په

---

9 https://www.nytimes.com/2017/08/06/world/asia/taliban-islamic-state-attack-afghanistan.html

10 په لاندې پته د لاسرسي وړ ده https://twitter.com/Terror_Monitor/status/897176678438289408

11 https://unama.unmissions.org/sites/default/files/protection_of_civilians_in_armed_conflict_midyear_report_2017_july_2017.pdf.

جنګي جرمونو کې وشمیرل شي. یوناما د افغانستان د دولت څخه غوښتنه کوي څو د میرزاولنګ بریدونه په زغرده وڅیړي او یقیني کړي چې مرتکبین حسابورکونې ته را کښ شي.

د اګست په ۱۵ ، د قربانیانو جسدونه د عدلي طب د ازموینو او اړوندو تحقیقاتي طرزالعملونو د ترسره کولو پرته له خاورو او ډله ییز قبر او نورو موقیعتونو څخه را ایستل شوي. د ډله ییزه قبرونو لپاره د تطبیق وړ پرتوکولونو سره په سمون ، یوناما داسي اعتبار لرونکي مالومات ترلاسه کړي چې ښيي امنیتي ځواکونه د هر قرباني د جسد د ترلاسه کولو او مستند کولو په برخه کې پاته راغلي. د داسي طرزالعملونو نه شتون ښايي راتلونکي ظرفیت متاثره کړي څو د حسابورکونې څخه ډاډ حاصل شي.

یوناما تصدیق کوي چې ښايي عملیاتي او د خوندیتوب اړوندو اندیښنو د جسدونو د راایستلو چارې ګړندی کړې وي. یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزل شویوعدلي طب د ټیمونو د شتون څخه با خبره ده ، دغه ټیمونه چمتو دي چې د پیښې ځایونو ته سفر وکړي او یا کم تر کمه په ساحه کې موجودو کسانو ته مشورې ورکړي څو په سمه توګه د جرم حساسه صحنه کنترول او تنظیم کړي او داسي مشوري باید په سمه توګه تعقیب شي.

**سپارښتنې**

**دولت ضد عناصر (طالبان)**

- سمدلاسه دې د ټولو ملکي کسانو او ملکي موخو عمدي هدف نیول ودروئ.
- د طالبانو د مشرتابه له خوا د بیانونو پلې کول کوم چې د ملکي کسانو په وړاندې بریدونه منع کوي ، د هغو لارښودونو پلې کول کوم چې د طالبانو غړو ته امر کوي څو د ملکي تلفاتو څخه مخنیوی وکړي.
- د بشر پالنې د نړیوال قانون لاندې د بریدونو څخه خوندي خلکو د وژلو راپورونو وڅېړئ او په مرزاولنګ کې د هر هغه کس له خوا چې د طالبانو یا د هغوي ځواکونو تر قوماندي لاندې دي او د قومي ، نژادي یا مذهبي کرکې ، د تبعیض ، دښمني او تاوتریخوالي راپارولو لامل ګرځي ، په ضد مبارزه وکړي او د حسابورکونې د یقیني کولو لپاره ټول لازم اقدامونه ترسره کړي.

**د افغانستان دولت**

- یقیني کړي چې د برید په تړاو څېړنې بې پرې ، په زغرده او شفافي وي او همدارنګه یقیني کړي چې مرتکبین مسؤل وګڼل شي او قربانیانو ته مناسبې خساري ورکړل شي.
- یقیني کړي چې د افغانستان د قانون لاندې ټولو مستحقو ټپي شویو قربانیانو او د وژل شویو کورنیو ته خسارې ورکړل شي.
- د تحقیقاتو په برخه کې د عدلي طب د موجوده ظرفیت بشپړ کارول څو یقیني کړي چې ټول بل القوه شواهد خوندي او موجود دي څو د حساب ورکونې د لټون د چارو په برخه کې د هڅو ملاتړ ته دوام ورکړي.